


بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library
د کتاب ځانګړني
د کتاب نوم:هغه څوک دی؟
لیکوال: افراز افغان

# ډالۍ: هغه چاته چي همدا اوس يې لولي!

## هغه څوک دی؟

د پوهنتون د اخيري سمیسټر امتحان وو، استاد پارچي وويشلي، ما ته يې هم يوه پارچه راکړه، سوالونه سخت وو، مګر ما ته آسانه وه ځکه درس مي ويلی وو، سوالونو باندي مي

(c) ketabton.com: The Digital Library
ښه فکر وکړ، پارچه مي حل کړه، یو ځل مي چیک کړه چي یوه غلطي نه وي، استاد ته مي پارچه ورکړه، د سهار ۱۰ بجي وي د پوهنتون څخه راووتم، کور ته لاړم، کور کي مي د ټولو سره روغبړ وکړ.

هر یوه ویلي پارچه دي څنګه وه؟
ما به دا جواب ورکوی:ښه وه آسانه وه شکر چي خداي تیره کړه ، مور مي هم پوښتنه وکړه:ما وویل: ښه وه مورجانې ستا دوعاوي راپسي وي ښه پارچه مي حل کړه.
مور: الله دي تل کامیابه لره
ما وویل: امین
مور: کوټي ته درځه ولي ولاړ یې؟
ما وویل: سمه ده مورجانې
کوټي ته لاړم، یوه دقیقه نه وه تیره مور مي چاي راوړ، چاي مي هم وخوړی او باندار مي هم کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته خپلي کوټي ته لاړم چي بکس تيار کړم ځکه د غرمي په يوه بجه مي هندوستان(ډهلي)ته پرواز وو، ولاړم حمام مي وکړ، وروسته مي د غرمي په دولس بجي مي ډوډی وخوړه، په دولس نيمي بجي د کور ښخه د راوتلو په حال کي وم، د ټولو ښخه مي خداي پاماني وکړه، د ټولو په سترګو کي اوښکي وي، ما هم نه شوای کولي چي اوښکي پټي کړم، مګر بيا مي هم ځان کابو کړ، ټولو ويل: پخير لاړ شي، د کور ښخه د راوتلو سره سم زموږ د پښتنو دود اوبه يې راپسي وپاشلي.

د ورور موټر ته مي وختلم، ورور مي موټر چلوی، د هوايي ميدان په لور روان شو، هوايي ميدان ته ورسيدو، ورور سره مي هم خداي

(c) ketabton.com: The Digital Library
پاماني وکړه، د هوايي ميدان دروازې ته ننوتم،
د بکس تر کتلو وروسته انتظار ځای ته لاړم،
يوه بجه طياري ته وروختلم، د طياري
خدمتګارانو ډوډی راوړل، هيڅ مې ونه خوړل
ځکه د کور ډوډی موړ کړی وم.

دوه ساعته مې سترګه پټه (ويده)
شوم، يو وخت مې اواز واوريدچي وويل: موږ
پخير د هندوستان (د ډهلي) ښار ته راورسيدو،
په نيم ساعت کي به ښکته شو هيله د ځايو
څخه ولاړ نشي مننه، نيم ساعت وروسته د
ډهلي په هوايي ميدان کي ناست وو، د بکس
تر کتلو او پاسپورټ وروسته د ډهلي د هوايي
ميدان سره نيږدي مې يو هوټل کې کوټه
ونيوله.

نيږدي د هوټل سره يو پارک وو، پارک ته لاړم

(c) ketabton.com: The Digital Library
زیات خلک وو، چا کرکیټ کوی، چا والیبال کوی، چا فوټبال کوی، زه په یوه چوکی کې کیناستم، د هلکانو کرکیټ ته مي کتل، خپل د ماشوماتوب یادونه مي سرته راغلل، په همدي فکر کې وم چي ماښام سو، ولاړم خپلي کوټي ته.

اودس او لمونځ مي وکړ، دیغ وم څکه کورنی مي یادیدل او اول واری مي وو د مسافري، تلویزون ته کشیناستم، ټول هندي چینلونه وو، د ماخوستن په اته بجي مي ډوډی وخوړل، اودس او لمونځ کولو ورسته په نهه بجي ویده شوم څکه سهار مي د هندوستان د نولس کلن له یوه لوبغاړي سره لیدل کول.

سهار په پنځه بجي راویش شوم، اودس او لمونځ مي وکړ، بیرته ویده شوم، په اته بجي

(c) ketabton.com: The Digital Library

راویش شوم، حمام مي وکړ، نوي دریشي مي واغوسته، په ځان مي ګوته ووهله، وروسته مي د سهار ناشته وکړه، وروسته د هوټله راووتم، راخشه مي کرایه کړه، د تاج محل هوټل په لور روان شوم، تاج محل هوټل مخته کښته شوم د راخشي کرایه مي ورکړه.

هوټل ته دننه شوم، هوټل ډیر ښایسته او پاک وو، دا هوټل د هندوستان د مشهورو هوټلونو څخه وو، د هوټل لارښونکی ته مي وویل:ایا دلته د یاشاسوی بهوپندرا کمار جیسوال په نامه څوک اوسیږي؟ ویې ویل: هو په څلورم منزل کې راستي خواته ۱۹۸ کوټه، ما وویل: ډیره مننه، د لیفټ په لور روان شوم په لیفټ کې رش نه وو، د ۴ منزل بټن مي ووهی په نیمه دقیقه کې ۴ منزل ته ورسیدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library
په منزل کې د ۱۹۸ خونې په لټه کې شوم، راستي خواته مي ومندل، دروازه مي وټکول، یو ډنګر ښایسته ځوان لکه ډیري خواری چي پري تیري سوي وي راووتي، ویې ویل: څوک مو پکار وو؟ما وویل: تاسو مې پکار وی، ویې ویل: مهرباني راځی، زه هم دننه شوم، خونه ډیره ښکلي او پاکه معلومیده، په کوچ کښیناستم، ویې ویل: چاي که قهوه او که یا یو یخ څښاک، ما وویل: یو ګلاس قهوه غواړم، اشپزخانې ته لاړ، یوه دقیقه نه وه تیره بیرته راغلی، ما ته یې قهوه راکړه.

ویي ویل: کولی شی ځان را معرفي کړی؟ما وویل: هو زه سلیم افغان ژورنالیست یم د افغانستان څخه یم ستاسو په اړه مي ډیر څه اوریدلي دي د زما د ماشمتوبه څخه هیله وه چي ستاسو سره مرکه وکړم، ویې ویل: کور مو

(c) ketabton.com: The Digital Library
ودان ښاغلي هيله کوم تکليف مو کړی زما لپاره د افغانستان څخه د لته لپاره راغلی یاست.

ومي ويل: اوله پوښتنه: د خپل ژوند کيسه راته وکړه؟
هغه وويل: په کومه ورځ چي له کرکټ سره زما پلار زما مينه وليدل، زما د پلار يو ملګری وو، بختور ځکه وم هغه شخص د کرکټ روزونکی هم دی، پلار مي هغه روزونکي ته تسليم کړم، د ورځې به مې سمبوسې خرڅولې تر څو له مالي پلوه ځان بسيا وساتو بيا به له روزونکي سره په کور کې اوسېدلم.

د ورځې به مي تمرينات کول د شپې به مو

(c) ketabton.com: The Digital Library
کیسې سره کولې، ما به هر ماښام د ورځې
راپور هم خپل روزونکي ته ورکاوه، کله چې به
له ما هیر سول روزونکې به وپوښتلم نن دي
کوم کوم کارونه سرته رسولې؟ ما به هم ځواب
ورکړ، خو ما د نورو ماشومانو په شان ښه
ماشومتوب نه درلوده لېږ بې پروا اموختنه
سوی وم، له روزونکي سره مې پنځه کاله تېر
کړل.

یو وخت مې په یوه محلي ټورنمنټ کې د
غوره لوبغاړي جایزه هم وګټل، او لس زره
هندی روپۍ یې په جایزه کې را کړي، له خپل
روزونکي څخه مې د یوه هیلمیټ غوښتنه
وکړه، هغه هم اجازه را کړه چې ځان ته
هېلمیټ  واخلم، کله چې له بازاره را ستون
سوم نو درې زره روپۍ مې اضعافه مصرف
کړي دي. روزونکی راته په غصه شو، روزونکي
راته په غُصه شو وویل "یو هېلمیټ په دیارلس

(c) ketabton.com: The Digital Library

زره؟؟ ملنډې دي شروع کړي دي" هېلمیټ یې
رانه واخیست د الماری پر سر یې کېښووده،
راته وویل تر څو به دا هېلمیټ استعمال نکړي
تر څو چې ددې هېلمیټ مستحق سوی نه یې،
تر هغه وروسته به مې خپل هېلمیټ ته کتل
خواري به مې کوله، تر څو چې د خپل هېلمیټ
د په سر کولو ارمان پوره کړم.

د رانجي ټرافي سیالیو کې مې لومړۍ لوبه
کوله، کتل مې چې روزونکی راغی هېلمیټ یې
را تسلیم کړ، په هماغه ورځ مې روزونکی پوه
سو، جایسوال ته چې هر هدف وټاکې پوره نو
یې پوره کولای سي، مګر زه جایسوال اوس په
هندوستان کې د یوه برېدګر بېټسمېن په توګه
پېژندل کیږم، په لومړي ځل کې د ممبۍ د
نولس کلنې لوبډلې په ګټه غبرګه سلیزه جوړه
کړه، خو په دویم ځل مې په ۲۰۱۷م کال کې د
ممبۍ سینیر لوبډلې په ګټه عیناً کارنامه وکړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library
او تر ټول کم عمره لوبغاړي په توګه مې په لېسټ ای کرکټ لیګ کې د غبرګې سلیزې جوړولو ریکارډ مې هم پخپل نوم کړ، د ممبۍ په لوبډله کې د ډېرو باتجربه او سپنیر لوبغاړو په منځ کې لوبېدلم.

خو د دوئ شتون زما پر لوبه مستقیمه اغیزه درلودله، په داسې ماحول کې اوسېدل زما سره مرسته کوله تر څو خپله طبیعي (تېزه) لوبه وکړم، خو په نړیوال جام کې مي بله ځانګړنه دا هم وه چې له حالاتو سره مې ځان عیاروی، د لوبډلې د بیټېنګ ستره برخه هم زه وم، د ټولو لوبډلو په وړاندې مې زمه واري هم اخیستي ده، او نسبتاً کم سټرایک ریټ سره مې ارامه لوبه هم کړې ده، کله چې د نړیوال جام په لور روانېدلو نو روزونکې مې راسره وعده وکړه، چې که د ټورنمېنټ مخکښ بېټسمین سوې، او له نورو لوبغاړو دې ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library
منډې جوړې کړي، نو په یوه نوي موټر به دې ونازوم، مګر ما غوښتل چې زما روزونکی خپل زوړ موټر ماته را کړي او ځان ته نوی موټر رانیسي.

په همدې ورځ زموږ او د پاکستان لوبه شروع سول، همدې شیبې ته په تمه هم وم، چې له سریلانکایي لوبغاړي څخه مې خپلې منډې زیاتې کړې کله چې سلیزې ته نژدې سوم په میدان کې یوه خبریال زما له روزونکې څخه پوښتنه کړې وه چې جایسوال خو اوس خورا غټ نوم خپل کړی دی، د IPL په بولۍ کې وپلورل سو، آیا تاته یې تر اوسه کومه ډالۍ در کړې ده؟ روزونکې مې په ځواب کې ورته ویلي وو، د جایسوال په شرټ تاسو ۲۳مه شمیره وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا زما د کلېزې نیټه ده او زه له دې څخه بله کومه غټ ډالۍ نه غواړم، څو شیبې وروسته مې د مېډ-ویکټ په سر ستره شپږیزه ووهله، چې هم مې خپله سلیزه ووهله او هم مې هندۍ لوبډله بریا ته ورسوله، او هم مو د روان کال د نولس کلنو نړیوال جام پاینل ته ووتلو، په همدې وخت کې زما روزونکې لاسونه پورته کړل آسمان ته له ځان سره یې پټه دعا وکړه، خبریال ته یې ویلي وو، "اوس به ځان ور وښیم چې زه هم دلته یم."

قلم او کتابچه مي په لاس کې وه ټوله معلومات مي ولیکل، سترګو کې مي هم اوښکي وي، مګر ځان مي کابو کړ،

ما وویل: دوهمه پوښتنه:څنګه دي د کرکیټ سره شوق شو؟

ویې ویل: زه پنځلس کلن وم، سهار له خوبه را

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته سوم، ناشته مو وکړه ، پلار ته مي وويل: بابکه نن د جمعې ورځ ده سمبوسې به د ممبي ښار پلازمينې ته يوسو ځکه هلته رش دی، پلار هم را غبرګه کړه ويې ويل: ياشسوي زويه درځه.

سمبوسي مو هلته ورسولې خلګ را روان دي، ننوزي ميدان ته دوه هلکان راغلل، سمبوسي مو ورکولې، هغه بل ملګری يې ور بغلي سو ژر کوه څنګه وروره کوهلي به اوټ سوی وي که يا؟ ما وويل: اهاااا هغه د کرکټ د منډو ماشين ويراټ کوهلي شوي، دوي وويل:هو! ما وويل: ويرات کولي هم ممبيي ته راغلی؟دوی وويل: هو هغه هم ممبيي ته راغلی.

پلار ته مې زارۍ او خواستۍ وکړې، او ورته ومي ويل: پلاره ته به تر څو دقيقو سمبوسو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library
ګوري زه به میدان ته دننه سم، پلار هم د ټکټ پیسې را کړي خوشحاله سوم میدان د دراوزې په لور ور رهی سوم، د ډهلي لوبډلې بیټینګ کړی وو، یو انګز پای ته رسیدلی وو، کتل مي چي کوهلي او کېل راهول د بیټینګ لپاره را ووتل د پیچ په لور دي.

ویراټ کوهلي ته ګورمه 18مه شماره لباس یې په تن دی سپین د سرو زرو ځنځېر یې پر غاړی دی، ما د آسمان خواته سوړ اسویلی وکړ له ځانه سره مي وویل: اې زما خدایه دا دی هغه کوهلي چي ما لیدلو ته ورځې او شپې شمارلې، په همدې ورځ مې د کرکټ مینه په بدن کي وغوړیدله، لوبه کوهلي وګټله له میدانه را ووتلم.

پلار مې سمبوسي خرڅې کړي وې. ماته انتظار

(c) ketabton.com: The Digital Library

و، زه يې تر لاس ونيولم، د کور پر لور مو حرکت وکړ کور ته ورسېدلو، پلار مې مور ته وويل جايسوال زوی مو له کرکټ سره زياته مينه او علاقه لري، مګر مونږ خپل غربت او مسکينی په ملا غوټ مات کړي يو.

ما وويل:دريمه پوښتنه:د څو کالو يې؟ او په څوم کال کې زيږېدلي يې؟
ويې ويل: زه د ۲۱کالو يم، د ۲۰۰۱ کال د ډيسمبر په ۲۸ نيټه زيږيدلی يم.

له نړيوال جام څخه وروسته ولاړم د ممبۍ ښار ته چيرې چې زمونږ کور او ټاټوبی دی، د ژوند له لويو ارمانونو څخه مې يو ارمان دا هم دی چې د هندوستان د ملي لوبډلې د نامتو توپوهونکي سچين ټنډولکر د سلو سليزو

(c) ketabton.com: The Digital Library
ریکارډ پخپل نوم کړم، او په IPL کې به دا زما لپاره یو خوب وي که د ممبی ایندینز Mumbai Indians لپاره لوبډلمشري وکړم، په آسیا او اروپا کې مي ټولو ځوانانو او لوبغاړو ته دا پیغام دی لومړی د مور او پلار قدر او عزت وکړئ، تعلیم په ژوند کې فرض کار دی باید ترسره یې کړو وروسته باید سپورټ ته هم وخت ورکړو، له تاسې ښاغلې ډیره مننه کوم چې له افغانستان څخه ډهلي ښار ته راغلئ تکلیف مو وکړ زما سره مو ولیدل نن زه او ته سلیم ملګري څو د ډهلي ښار ته په تاج محل کې زما ځانګړی میلمه یې قدرمنه وروسته به ولاړ سو کلکتې ښار ته له ښارخ خان سره ګورو، کلکتې ته ولاړو د سینما ستوری ښارخ خان مو ولید، وروسته جایسوال خدای په اماني وکړه زما د پرواز ټکټ یې په ځان ومانه زه راغلم افغانستان ته تل دې وي افغانستان ودان دې وي افغانستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**